اکادمسین سلیمان لایق

# د لنډیو ماخذونو ته یوه کتنه

[۳]

د څلوریځو په کلیاتو کې، هره څلوریځه یو ځانګړی باب تشکیلوي او په هغه کې د څلوریځو د متنوعو بهو مصرع ګانو یو تر بلې لاندې ځای نیولی، د مصرع ګتنو د لومړي، دوهم، دریم او څلورم کتار او د هغو مصرع ګانو د کتار له مخې چې له څلوریځې سره پیوند شوې دي په یوه برسېرن نظر د هغوی تر منځ ورته والی او توپیر څرګندېږي. په کلیات کې مزید أویل شوي دي چې په څلوریځه کې زیاته شوې برخې کومې دي . کومه کړه په بلې کړې بدله شوې ده او کومه برخه له لیکنې لوېدلې او نور د مصرع ګانو د تدوین، ترتیب او یو تر بل لاندې د لیکلو په نتیجه کې د وګړنیزو څلوریځو د تبدیل او تجدید ډېر دقیق تصویر رامنځ ته مېږي او داسې پېښې چې علمي اهمیت لري را څرګندېږي یعني په صراحت سره تشخیص کېږي چې د څلوریځې په دغه یا هغه شکل کې څه زیاتونه یا لاس وهنې رامنځ ته شوې دي. د

ځلوریځي کومه برخه او کومې مصرع ګانې ثبات لري؟ او د دې ثبات سبب څه دی؟ آیا د ځلوریځی پر بنه باندې ادبي ژبه حاکمه ده او یا د عامه ویناژبه او نور د ځلوریځو د مصرع ګانو د ځای پر ځای کولو د طرز د تطبیق په پای کې یو داسې مکانیزم منځ ته راځي چې د یوې واحدې ځلوریځې د بڼو د مجموع په رویت د نومونړې ځلوریځې دقیقه او اصلي نسخه معینه کړو. معینه شوی نسخه پخپل وار د بڼې پیداکونې د قانونیت د زده کړې په برخه کې د فلکلور د اساسي ځانګړنو د محک په توګه ستر اهمیت لري. په دې څېړنه کې تر هر څه وړاندې د (مقداری) تحلیل له اصولو څخه استفاده شوې ده او د دې اصولو پر بنا د مشخصې او متوازنې نسخې ځاکنه په لاندې ډول سر ته رسېږي.

۱ـ له ځولو واحدو مصرع ګانو څخه تش یوه مصرع انتخاب شوې او نورې حذف شوې دي.

۲ـ د واحدو مصرع ګانو (کمیت) مشخص شوی دی.

۳ـ د کره [1] نسخې لپاره هماغه مصرع انتخاب کېږي چې په کتلاک کې ار ټولو مصرع ګانو زیاته تکرار شوې وي.

۴ـ د بڼو (شکلونو) په ځینې ډلو کې د یو رنګه مصرعګانو تر دوو یا دریو نوعو زیات مقدار لاس ته راغلی او په دې ډول د کره نسخو دوه یا درې روایتونه راځر کند شول.

د هغه څه د روښانېدو لپاره چې پورته بیان شوه، یو مثال وړاندې کوو، خو تر هر څه د مخه د «۹ ت» لومړی

مصرع دلوستونکو پاملرنې ته وړاندې کوو (په زېرمه کې د دې مصرع ۲۸ بڼې تدوین شوې او د هغوی هر بڼه لکه د مصرع ټولې نورې بڼې په ګڼو، ځانګړې شوې دي).

۱ـ یک پارچه زمین داریم نصفش شد گار
۲ـ در للمک پیشاورت بستم شد گار
۳ـ یک تازه زمین داریم نصفش شد گار
۴ـ یک پارچه زمین داروم نیموش شد گار
۵ـ یک پرچه زمین داریم نیمش شد گار
۶ـ یک پرچه زمین داریم نیموش شد گار
۷ـ ای خانه برآمدوم رویش به فرار
۸ـ یک پرچه زمین داریم نیمش شد گار
۹ـ یک پرچه زمین داروم نیموش شد گار
۱۰ـ یک پارچه زمین داروم نیموش شد گار
۱۱ـ یک پارچه زمین دارم نصفش شد گار
۱۲ـ دو تازه زمین دارم نصپش شد گار
۱۳ـ کفتر بچه سوفید گردن گل خار
۱۴ـ یک پرچه زمین داریم نصپش شد گار
۱۵ـ یک پرچه زمین داریم نصپش شد گار
۱۶ـ یک پرچه زمین داریم نیمش شد گار
۱۷ـ یک پرچه زمین داریم نیموش شد گار
۱۸ـ یک پرچه زمین داریم نصپش شد گار
۱۹ـ یک پرچه زمین داریم نیموش شد گار
۲۰ـ در پشته زمین داریم نیموش شد گار
۲۱ـ قوقن میروی قطی یگیتای بسیار

۲۲ـ یک پرچه زمین داریم نصپش شد گار

۲۳ـ یک تاوه زمین داریم نصپش شد گار

۲۴ـ یک پارچه زمین داریم نصپش شد گار

۲۵ـ یک پرچه زمین داریم و نصپش شد گار

۲۶ـ یک پارچه زمین داریم و نیموش شد گار

۲۷ـ یک پرچه زمین داشتیم و نصپوش شد گار

۱ـ یک پرچه زمین داشتیم نصپوش شد گار

لکه څنګه چې ایدل کېږي لومړی مترع د څلوریځې په ۲۸ نسخو کې زیاتره په لاندینۍ بڼه تکرار شوې ده:

یک پرچه زمین داریم، نصپش شد گار

په دې بڼه کې د دې مصرع زیات تکرار معین سببونه لري او هغه په همدې اړه دغه مصرع د رباعي په معتدله (کره) بڼه کې شامله شوه. د دې څلوریځې نورې مصرع ګانې هم په همدې ډول «سره» شوې دي. د مثال په ډول «۲، ۲، ت» را اخلو د هغې د مصرع ګانو دورته والي او توپیر درجه په لاندې ډول ده.

لومړی مصرع له شلو مصرع ګانو څخه نولس مصرع ګانې، له نمبر ۱ بڼې څخه پرته، یو ډول دي.

دوهم مصرع اتلس مصرع ګانی، له نمبر ۱ ـ او ۱٦ بڼی څخه پرته، یو ډول دي.

دریمه مصرع ۱، ۲، ۳، ۵، ٦، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۸، ۲۰ کردې یو ډول دي.

او داده د مصرع ګانو د کره توب منظره

لومړی مصرع ۲۰ـ۱ = ۱۹

دوهمه مصرع ۲۰ـ ۲ = ۱۸

دریمه مصرع ۲۰ـ ۴ = ۱٦

څلورمه مصرع ۲۰ـ ۳ = ۱۷

د نولسمې ګڼې د نسخې په متن کې یوه زیاته یعنی پنځمه مصرع شته ده، زموږ د څېړنې او تلنې پر اساس د څلوریځې لاندینۍ نسخه لاس ته راغله:

۱ ـ من خواو بودم یک برگ سوزم دادی

۲ ـ بیدار شیدوم یک بوسه فرضوم دادی

۳ ـ در گور رود قشافی و کمبغلی

۴ ـ یک بوسه چه بوده به ترس و لرزم دادی

په دې ټیپ کې لکه څنګه چې لیدل کېږي د ټیکاو او قوت درجه ډېر لوړه ده، خو د «۱۹۹ ، ت» په ۳ او ۴ مصرع ګانو کې ټیکاو تر دې درجې پورې لوړ نه دی او لاندینی حالت یې غوره کړی دی.

م ۱، ۲۰ـ ۲ = ۱۸

م ۲، ۲۰ـ ۲ = ۱۸

م ۳، ۲۰ـ ۸ = ۱۲

م ۴، ۲۰ـ ۱۱ = ۹

په دې ډول وینو چې د ټسکاو درجه په ټولو ټیپونو (بهیزو ډلو) کې یو وړ نه ده. لکه څنګه چې ښکاره شوه په ځولو ټیپونو کې د مصرع ګانو تش یو ټاکلی شمېر ټیکاو لري، د همدې مصرع ګانو په اساس (کره) نسخې برابرې شوې یا په بل عبارت کره شوې نسخې د څلوریځو د هر ټیپ د ټیکاو لړونکو مصرع ګانو له برخې څخه رامنځ ته شوې لیکن د دغه

نسخو له څېړنې وروسته څرگنده شوه چې د دوی په اکثرو کې د وزن، منطق، قافیې، ژبې او نورو جهاتو په اړه څه نه څه نقصانونه او سکتې لیدل کېږي چې د هغوی له لری کولو پرته ترتیب شوې نسخه کره نشي بلل کېدلای. د کره نسخو په مقیاس کې چې د مقداری اصولو، سنجش په اساس غوره شوې دی. د یاد شویو نقصانونو د تناسب د سنجش لپاره او د دغو نقصانونو د ښوولو او د هغوی د لری کولو لپاره مو ږ گرد سره ۳۹۰ نسخې چې د هغوی له نمودونو (؟) سره ۴۴۲ متنونه جوړوي په څلورو برابرو گروپونو (څلور سریالونو) وویشلې. یعنی په سریال «آ»، «ب»، «و»، «گ». «آ»، «ب» سریالونه هر یو ۱۱۵ متنه او د «و»، «گ» سریالونه هر یو ۱۱۱ متنونه رانیسي.

د دې څلورو گروپونو تر پلټلو وروسته څرگنده شوه چې د هر سریال په یو شمېر ټاکلو نسخو کې کنوالی او نارسایي نه لیدل کېږي، دغه متنونه له هر راز بدلون او سمونې پرته په کلیاتو کې داخل شول. دغه مقدار د «آ» په سریال کې ۲۳ نسخې یعني و، په سلو کې ۲۰ د «ب» په سریال کې ۳۴ نسخې یعنی په سلو کې ۳۶ د «و» په سریال کې ۳۴ نسخې یعنی په سلو کې ۳۶ او د «گ» په سریال کې ۵۱ نسخې یعنی په سلو کې ۴۶ وې (د ماخذ په ارقامو کې تېروتنه شوې ده، لایق) ۱۴۸ متنونه یا په سلو کې ۳۳ جمع ۴۴۲ نسخې کره شوې دي. د نیمگړتیاوو د سمونې پر مهال مو لومړی پلاو هغه مصرع گانې په نظر کې نیولې دي چې تر نورو زیاتې تکراریږي یعنی د تکرار له مخې دوهم یا دریم ځای نیسي.

یوائځې د دې مصرع ګانو د ناوړتیا په حالت کې د ناچارۍ له مخې له کم تکراره مصرع ګانو څخه استفاده شوې ده.

په لاس ته راغلیو نسخو کې تر هر څه وړاندې نقصان په وزن کې لیدل کېږي. د «آ» په سریال کې ٦٠ نقصونه، په «ب» کې ۴۴، په «و» کې ۵۰، په «ګ» کې ۴٦ ګرد سره ۲۰۰ نقصانونه ولیدل شوو چې د اثرونو (تیپونو) په مقیاس کې په سلو کې ۴۴ او د مترع ګانو په مقیاس کې ۱۱ جوړوي.

د وزني نقصانونو نسبته زیاتوالی معین سببونه لري. د وګړنیزو څلوریځو زیاتره بلونکي او ویونکی (قرائت کوونکې) داسې افراد دي چې شاعري طبع نه لري او وزن سم نه احساسوي، د وګړنیز شعر د وزن ساتنه عموماً ستونځمن کار دی.

په وزن کې د نقصانونو د رامنځ ته کیدو بل سبب د څلوریځو د اجزاء په طرز پورې هم اړه لري، خلک څلوریځه هیڅکله بې غاړې (بې آهنګه) نه اجرا کوي. غاړه له یوه پلوه په وزن کې عیبونه پیدا کوي او له بل پلوه ګرده څلوریځه په ځان کې رانغاړي او د بللو په مهال د هجا ګانو اوږدېدل او لنډېدل د تلفظ د اختلاف په وجه منځ ته راځي او په همدې سبب د وزن په نقصانونو پوهېدل ستونځمن کېږي.

د هغو څلوریځو د وزن نارسندویي چې د کره شویو نسخو لپاره غوره شوې، راز راز دي. مثلاً په یوه څلوریځه کې درې یوولس هجایي مصرع ګانې او یوه ۱۲ هجایي یا ۱۳ هجایي مصرع کارول شوې ده. په بله څلوریځه کې دوه ۱۳ هجایي مصرع ګانې او دوه نورې ۱۲ هجایي یا ۱۱

هـجايي كـارول شـوې دي او پـه هـمـدې ډول نـوې. كـلـه د هجاګانو لنډېدل او اوږدېدل نښته ( سكته ) راپيدا كوي په داسې مـواردو كـې د هـرې څلـوريـځې مـوجـودې بـنـې د څلوريځې د اصلي وزن د كره كولو په برخه كې ستره مرسته كړې ده. داسې څرګـنـده شـوې ده چې پـه وزن كـې زيـات نقصانونه په هغو مصرع ګانو كې رامنځ ته شوي دي چې وزن يې بايد ۱۲ هجايي وي ليكن د هغه پر ځاى ۱۱ يا ۱۳ هجايي شوى دى.

كوم نا سموالى چې د خبرو په منطق او تناسب كې وليدل شو د «آ» د سريال د آثارو په ګروپ كې په سلو كې ۲۱، د «ب» د سريال د آثارو په ګروپ كې په سلو كې ۲۵ د «و» د سـريـال د آثـارو پـه ګـروپ كـې پـه سـلـو كـې ۲۲ او د «ګ»د سريال د آثارو په ګروپ كې په سلو كې ۱۵ شته دى، خو كه د دغه ګروپ څلوريځې د مصرع ګانې په مقياس كې وسنجول شي د دغو نقصانونو درجه تر دې هم كمېږي، په دې توګه د «آ» سريال پـه سـلـو كې ۸/۶ % د «ب» سريـال ۸/ ۷ % ، د «و» سريـال ۴ / ۷ % او د «ګ» سريـال پـه سـلـو كې ۵ % نقصانونه لرين

داسې څر كندېږي چې ټول د وينايي منطق د رعايت پابندي او نه هم د نظم په قالب كې د كره ژبې مناسبت ته اعتبـار ور كـوي او نـه هـم دوى ګـرد سـره پـه دې رعـايـت او مراعت قادر دي. د ډېرو نازكو اړخونو له پلوه چې نظم يې د ژبې د مناسبت له كبله لري د شعر پوهوي طبع لازمه ده له بېكه مرغه د سندر غاړو تر منځ داسې كسان هم شته دي چې همدا

ځانګړنې لڼي. هغه څلوريځې چې د دوی له خولې ليکل شوی دي د منطق له رعايت کولو او د ژبې له مناسبت سره ړيره مرسته کوي.

د ترتيب شويو نسخو مطالعه څرګندوي چې د څلوريځو په منطق کې نا کره توب معمولاً په لندينو حالاتو کې رامنځ ته کېږي: کله چې لومړی مصرع د غنايي قهرمان له لورې دوهم شخص (مخاطب ته په مراجعه پيل شي او په نورو مصرع ګانو کې مخاطب اجول کېږي، د خبرې په مناسبت کې نارسايي رامنځ ته کوي:

«در باغت نميدارم، کورتم تنګ ای
اين ياره نمی ګيرم، دلم خنک ای» (۵، ت)

د «اين ياره» د عبارت په اچولو او د هغه پر ځای د «بچه اته» د عبارت په زياتولو، چې د نورو بڼو په اساس غوره شوی دی، د ژبې معتدل مناسبت بسيا شو.

لاندينۍ څلوريځه وګورئ:

سر تا سر ديوالوت انار ای جوره
کرشمه نکن کارت کشاله ای جوره
کرشمه نکن، (که) جای سر مانی نيست
عاشق شده ايم جای پشيمانی نيست، (۴۰، ت)

په دې مثال کې هم غنايي اتل (قهرمان) دوهم شخص (جوره) ته مراجعه کړی ده، غواړي هغه خبر او وښيار کړي، خو کله چې په څلرمه مصرع کې غنايي اتل د خپل ځان په باره کې خبرې کوي، بې منطقه ښکارېږي، په پای کې د «شده ايم» د فعل پر ځای د «شده» د فعل ځای پر ځای کولو دغه

بې منطقی له منځه باسي، په لاس ته راغلیو نسخو کې د دې پر عکس پېښنه هم لیدل کېږيو څلوریځه نقلی ځانګړتیا لري، خو د هغې په یوه مصرع کې دوهم شخص (مخاطب) ته مراجعه لیدل کېږي:

«قد یار مه ای جیغه در دیدوم
در پیش بروش دو تکمه از دیدوم
گفتوم که دووم او تکمه هاش یکته گیروم
حسن همه رو به تو میسر دیدوم» (۳۲۸، ت)

پهورو ستۍ مصرع کې دوهم شخص «تو» بېځایه یاد شوی دی دهغه پر ځای د دریم شخص (غائب) ځای پر ځای کول د څلوریځی ژبه اعتدال ته راوړلي.

په یو شمېر مرتبو نسخو کې څرګندېږي چې د څلوریځو د مصرع ګانو تر منځ پیاوړي منطقي رابطه نشته، د دي عارضي لپاره د لومړۍ برخې «۹۱، ت» څرګند مثال کېدای شي :

«این دشت دراز باشه، قدسه بینوم ،
این مهر ترا خدا انداخت در دل من »

د نورو بڼو په اساس دغه دوه مصرع ګانې په اصل کې داسې وې

« جشمان تو پر خمار و پر خون دل من
انداخت فلک همر ترا در دل من »

د مصرع ګانو ناوړتیا ځینې وخت د سندرغاړو له لورې د څلوریځی د نویو کولو د کوشش له امله رامنځ ته کېږي. مثلاً د «۳۱۷، ت» دودیزې څلوریځې ته نوی مضمون داخل

شوی خو د څلوریځی له عمومي مضمون سره د هغه د سر نه خوږلو په وجه نې منطقي رامنځ ته شوې ده

«چناره بو بین برگ سلیمان داره،
جوره مه بو بین، طاق زرافشان داره»
گفتوم برووم سر رایي عسکرا،
در سرک را هزار نگهوان داره، »

په دې څلوریځه کې د عاسقانو بېلتون او له هغه شخه د خګشېدو لاره تصویر شوې ده. مګر د هغې د نویو کولو لپاره هم په مضمون کې او هم په وزن کې نقصان رامنځ ته شوی دی. البته د مصرع ګانو تر منځ اړیکه په داسې موردونو کې دومره له منطق شخه نه لرې کېږي، زیاتره تش په ځینو څلوریځو کې له فکري اړخه جدي نیمګړتیا رامنځ ته کېږي، په «۸۳، ت» کې یوې خور د خلکو پر وینا اعتراض کړی دی «قندوم نکنین» یعنی ما مه غولوئ یې وویلي دي، لیکن د خور دغه ادعا ته کوم اساس نشته:

« مردم میگن « طاقه و تنها رفته ای»
قندوم نکنین قوقند تماشا رفت ای

هماغسې چې پورته وویل شوو د «قندوم نکنین» د عبارت پر ځای د «از سوزش دل» د عبارت په کارولو، د څلوریځی معتدله نسخه رامنځ ته شوه.

یو شمېر بې منطقي ګاني، د ځینې ګړو د بې ځایه کارېدو په وجه رامنځ ته شوې دي. د دې عارضې لپاره «۵۵، ت» ښه مثال دی:

این خانه رو پرو بمن خانه شسدای،

SPINTA

غم در دل من انار پر دانه شیدای،
مردما میگن «غمک بیهوده نخور»،
من غم نخورم، یار کم بیگانه شیدای،

د دې څلوریځې په څلرمه مصرع کې «من» بېځایه ناست دی، په ځینې بڼو کې د «من» د ګړې ځای د «چون» ګړې نیولی دی، له دې امله د څلوریځې معنا لا ژوره او د وینا آهنګ لا روښانه او ګړندی شوی او مصرع د خطابي پوښتنې بڼه ځانته غوره کړې ده:

چون غم نخورن، که یار کم بیگانه شیدای؟

SPINTA